# د پښتو او پشه‌يي ژبو ګډو اتو (ټ ځ څ ډ ړ ږ ښ ڼ) غږونو څېړنه

څېړندوی فريدالله فرحان

د افغانستان علومو اکاډمۍ ،بشري علومو معاونيت، ژبو او ادبياتو مرکز، د وروڼو او قومونو ژبو او ادبياتو انستيتوت څېړندوی غړی

**برېښناليک:** amlawal.farhan@gmail.com

**لنډيز**

پشه‌يي ژبه د افغانستان په بېلا بېلو ولايتونو کې ويونکي لري، چې له پښتو ژبې سره تاريخي، ژبنۍ او سيمه‌ييزې اړيکې لري. په دې څېړنيزه مقاله کې د پشه‌يي او پښتو ژبې پر اتو (ټ/ṭ، ځ/ǰ، څ/c، ډ/ḍ، ړ/ṛ، ږ/ẓ، ښ/ṣ ڼ/ṇ) غږونو بحث شوی دی، دا مقاله د غږونو پېژندنې، مخرجونه او غږونو نورې ځانګړنې په بېلګو کې روښانه کوي او د موضوع ښه روښانتيا لپاره په بېلګو کې ذکر شوي غږونه د کلمو په پيل، منځ او پای کې ښودل شوي، وروسته د دواړو ژبو د ګډو غږونو په علت او عامل باندې خبرې شوې دي. دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې تر اوسه پورې د پشه‌يي او پښتو ژبې پر يادو شوو مشترکو غږونو څېړنه نه ده شوې. د دې څېړنې موخه دا ده، چې د پشه‌يي او پښتو ژبو ذکر شوو غږونو مشترکوالی روښانه شي، ترڅو لوستونکو او څېړونکو ته د دواړو ژبو تاريخي او ژبنيو اړيکو اهميت څرګنده شي. د څېړنې ډول کتابتوني دی، چې له بېلابېلو آثارو څخه ګټه اخيستل شوې، همدارنګه د پشه‌يي ژبې ويونکو سره مرکې شوې دي، ترڅو موضوع په ښه ډول واضح شي.

**کليدي کلمې:** پښتو، پشه‌يي، آريک، ګډ، علت، غږونه

## سریزه

پشه‌يي ژبه چې زموږ د هېواد په ختیځو او مرکزي سیمو، لکه: د کاپیسا، لغمان، ننګرهار، کونړ او نورستان په ځینو ولسوالیو او کلیو، د کابل ولایت په پغمان او سروبي ولسوالیو او د هېواد په یو شمېر نورو سیمو کې ویل کېږي. یوه ډېره پخوانۍ او لرغونې آریایي ژبه ده، چې له پښتو سره نږدې اړیکې لري، یعنې پښتو او پشه یي د اندو –اروپایي ژبکورنۍ د آریک ژبښاخ پورې اړوندې ژبې دي او په خپلو کې سره ډېرې نږدې اړیکې لري، چې ډېر غږونه او آوازونه یې سره ورته دي. په دې څېړنه کې د پښتو ژبې اتو (ټ/ṭ، ځ/ǰ، څ/c، ډ/ḍ، ړ/ṛ، ږ/ẓ، ښ/ṣ، ڼ/ṇ) غږونه چې له پشه‌يي ژبې سره مشترك غږونه دي، څېړل شوي او په دې برخه کې د پشه‌يي ژبې یو شمېر بېلګې وړاندې شوي دي. د دې څېړنې ارزښت او اهمیت دا دی، چې د پشه‌يي او پښتو ژبو ترمنځ د داسې ګډو غږونو معرفي کوي، چې په اړه یې تر اوسه پورې مشخصه څېړنه نه ده شوې او د څېړنې موخه دا ده، چې پښتو او پشه‌يي ژبو ګډ اته غږونه روښانه شي، ترڅو لوستونکي په اسانۍ سره د دواړو ژبو ترمنځ غږیزې تاریخي اړیکې وپېژني. د ذکر شوو غږونو سپړنه د دې څېړنې محور جوړوي. د څېړنې ډول کتابتوني او ساحوي دی، چې له بېلابېلو چاپي آثارو څخه او هم پشه‌يي ژبې د ویوونکو سره د څېړنو د پوښتنپاڼو په‌واسطه مواد او معلومات راټول شوې دي.

## د څېړنې کړنلاره

د دې څېړنې ډول کتابتوني دی او له تشریحي، تحلیلي او ساحوي کړنلاروپه اساس یې مواد راټول، تحلیل او تجربه شوي دي.

### د پښتو او پشه‌يي ژبو ترمنځ ګډ اته غږونه

پشه‌يي ژبه زمونږ د هېواد په ختیځو او مرکزي ولایتونو لکه: کاپیسا، لغمان، ننګرهار، کونړ، نورستان، دکابل ولایت په سروبي ولسوالۍ او هم د هېواد په ځینو نورو سیمو کې ویونکي لري، پشه‌يي ژبه یوه پخوانۍ او ډېره لرغونې آریایي ژبه ده، چې له پښتو ژبې سره نږدې ژبنۍ، تاریخي او سیمه‌ییزې اړیکي لري. پښتو او پشه‌يي

ژبې له اندو اورپايي ژبکورنۍ سره اړوندې ژبې دي. دا څېړنه د پښتو او پشه‌يي ژبو د ګډو اتو (ټ/ṭ، ځ/ǰ، څ/c، ډ/ḍ، ړ/ṛ، ږ/ẓ، ښ/ṣ ڼ/ṇ) غږونو په اړه ده، چې په دواړو ژبو کې يو ډول ويل کېږي او په غږيزو ځانګړنو کې يې کوم توپير نه ليدل کېږي. دا غږونه په لاندې ډول دي:

### ۱- ټ/ṭ/

ورييز،غبرګژبيز(ريتروفلکس)،تم(انسدادي)،ناغږن غږ دی، د تلفظ او ادا کېدو پر مهال ژبه غبرګېږي(راګرځي کېږي)، ژبڅوکې لاندې برخه له اوريو سره نښلي او بيا په خورا چټکۍ يو وار خوځون مومي، له دې امله ورته يو ورييز رپند غږ هم ويلای شو(زيار، ۱۳۸۵، ۲۲مخ) نوموړی غږ په پښتو او په پشه‌يي ژبه کې يو ډول ځانګړنې لري او په دواړو ژبو کې د کلمو په پيل، منځ او پای کې په درې واړو موقعيتونو کې راځي. د دې غږ بېلګې په لاندې ډول دي:

| ټ/ṭ/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **دپښتو ژبې بېلګې** | | | | | |
| **د کلمې په پيل کې** | | **د کلمې په منځ کې** | | **د کلمې پای کې** | |
| **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** |
| ټول | ṭol | لټول | laṭawǝl | پټ | pǝṭ |
| ټاټوبی | ṭāṭobay | لوپټه | lūpaṭa | کټ | kaṭ |
| **د پشه‌يي ژبې بېلګې** | | | | | |
| **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** |
| ټاپا ṭāpā | پېغور | بوټو boṭo | قلبه | اوټ oṭ | بره/شمال |
| ټکا ṭǝkā | داغ/ علامه/نښه | وټيک waṭik | ستړی کېدل | ګرټ gǝraṭ | مېچن |
| ټېغ/ټاغ ṭeğ/ṭāğ | برګې سترګې | موټا moṭā | لنډ/ټيټ | ناټ nāṭ | رقص/اګډا |

**2- ځ /ǰ/**

ورييز (ځيږ تالوييز)، تم مښلی او غږن بېواک غږ دی، چې د کلمې په پيل، منځ او پای کې راځي (شيرزاد. ۱۳۹۹ل،۹۸مخ) دا غږ د پښتو او پشه‌يي ژبې ترمنځ مشترک غږ دی. د پشه‌يي ژبې چوګني[۲۶](فرحان،۱۴۰۴، ۱۷۰مخ) په لهجه کې ډېر ليدل کېږي، دا غږ په پښتو او په پشه‌يي ژبه کې يو ډول غږيزه بڼه لري او د دواړو ژبو کې د کلمو په پيل، منځ او پای کې کې راځي. بېلګې په لاندې ډول دي:

| ځ /ǰ/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **د پښتو ژبې بېلګې** | | | | | |
| **د کلمې په پيل کې** | | **د کلمې په منځ کې** | | **د کلمې پای کې** | |
| **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** |
| ځان | ǰān | پوهنځی | pohanǰay | ورځ | wraǰ |
| ځاله | ǰālə | رنځور | ranǰūr | منځ | manǰ |
| **د پشه‌يي ژبې بېلګې** | | | | | |
| **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** |
| ځني ǰani | ډولی | منځنا manǰənā | جامې | پونځ ponǰ | مېږه |
| ځومای ǰomāy | زوم | النځيک alanǰik | خوځېدل | | |
| ځن ǰan | مار | پنځيو panǰiw | پنځلس | | |

**۳- څ /c/**

ورييز، تم مښلی او ناغږن بېواک غږ دی، د کلمو په پيل منځ او پای کې راځي، دا غږ د پښتو او پشه‌يي ژبې ترمنځ ګډ(مشترک) غږ دی،دا غږ هم د پشه‌يي

---

[۲۶] د ننګرهار د دره نور ولسوالي اوسېدونکي د آربت، شوماش، چلس، کوړنګلاو شېمل خلکو ته چوګني وايي او د دوی لهجه چوګني نامه يادوي.

ژبې په چوګنې لهجه کې ډېر لېدل کېږي، پښتو او په پشهيي ژبه کې يو ډول غږيزه بڼه چې د کلمو په پيل، منځ او پای کې راځي. بېلګې په لاندې ډول دي:

| ځ/c/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **د پښتو ژبې بېلګې** | | | | | |
| **د کلمې په پيل کې** | | **د کلمې په منځ کې** | | **د کلمې پای کې** | |
| **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** |
| ځار | cār | اځک | acək | لځ | Ləc |
| ځښل | cṣəl | ميرځمن | mircamən | | |
| **د پشه‌يي ژبې بېلګې** | | | | | |
| **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** |
| ځمبړي cɪmbəṛi | تبرګی | پځيک pəcik | پخېدل | مويځ moayc | موږګ |
| وځلک waclɪk | خوسکی | اځۀ acə | راوړه | ڵويځ λoyc | ورګه |
| ځپړي capṛi | کجاوه | اوځوم ocom | لړم | اينځ aync | سترګې |

## ۴- ډ/ḍ/

دا غږ هم پښتو او پشه‌يي ترمنځ مشترک اوريېز، غبرګژبيز (ريتروفلکس)، تم (انسدادي) او غږن ښواک غږ دی چې نسبتاً دروند ويل کېږي او په دواړو ژبو (پښتو، پشه‌يي) کې په ټولو ځايونو (پيل، منځ او پای) کې راځي چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

| ډ/ḍ/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **د پښتو ژبې بېلګې** | | | | | |
| **د کلمې په پيل کې** | | **د کلمې په منځ کې** | | **د کلمې پای کې** | |
| **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ډول | dwal | بډه | baḍa | ډنډ | ḍanḍ |
| ډېر | ḍer | کونډه | kwənḍa | پنډ | panḍ |
| **د پشه‌يي ژبې بېلګې** | | | | | |
| **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** |
| ډوا ḍawā | نغری | بډولا bədolā | کودړی | ډوډ ḍoḍ | ملګرتيا |
| ډبار ḍabār | خته/چېقړ | پوډر poḍar | پوډر | اوډ oḍ | بره/لوړ |
| ډزا ḍızā | جوار | اډا aḍā | تمځای | شېنډ šenḍ | بام |

### ۵- ړ /ṛ/

غبرګژبيز (ريتروفلکس) اړخيز او ريپدونکی غړن بېواک غږ دی چې د اداينې پر وخت د ژبې د څوکې لاندينی برخه راغبرګېږي او د مخني تالو په برخه کې نښلي او بيا ژر په چټکۍ سره ښکته خوشې کېږي (زيار. ۱۳۸۵: ۳۲مخ) دا غږ په دواړو ژبو کې د کلمو په پيل، منځ او پای کې راځي، خو دواړو ژبو د کلمو په پيل کې په ندرت راځي چې بېلګې ې په لاندې ډول دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ړ /ṛ/ | | | | | |
| **د پښتو ژبې بېلګې** | | | | | |
| **د کلمې په پيل کې** | | **د کلمې په منځ کې** | | **د کلمې پای کې** | |
| **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** |
| ړوند | ṛūnd | اړخ | aṛx | زوړ | zoṛ |
| * | | زړه | zṛə | ربړ | rabaṛ |
| **د پشه‌يي ژبې بېلګې** | | | | | |
| **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ږمبکیک ṛambəkik | غږمبېدل | پاړک pāṛλk | وزه | پاړ pāṛ | څېړی |
| * | | باړو bāṛo | سېلاب | لاړ lāṛ | دروغ |
| * | | ګړېوا gaṛewā | لېږلی | اړ aṛ | زړه |

## ٦- ږ/ẓ/

دا غږ د پشه‌يي ژبې په بېلا بېلا لهجو کې په بېلا بېلو ډولونو ويل کېږي. د کاپيسا په اله ساى لهجه کې د پښتو ژبې د مرکزي لهجې په څېر ادا کېږي چې وروستى تالوييز، غږن او مښلى ښواک دى، د تلفظ پر وخت يې د ژبې وروستۍ برخه د تالو له وروستۍ برخې سره نښلي.

همدغه غږ (ږ) د پشه‌يي ژبې د دولت شاه او اليشنګ په لهجه کې د پښتو ژبې د کندهارۍ لهجې په څېر تلفظ کېږي چې مخنى، تالويز، غبرګژبيز (ريتروفلکس)، غږن او مښلى ښواک غږ دى. دا غږ په پښتو ژبه کې د کلمو په پيل، منځ او پاى او په پشه‌يي ژبه کې د کلمو پيل، منځ کې راځي، خو په پاى کې نه راځي، چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

| ږ/ẓ/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **د پښتو ژبې بېلګې** | | | | | |
| **د کلمې په پيل کې** | | **د کلمې په منځ کې** | | **د کلمې پاى کې** | |
| **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** | **بېلګه** | **فونيميک** |
| ږلى | ẓalay | اوږد | ūẓd | کوږ | koẓ |
| ږدن | ẓdən | ووږمه | waẓma | ځوږ | ǰawẓ |
| **د پشه‌يي ژبې بېلګې** | | | | | |
| **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** | **بېلګه له فونيميک سره** | **معنا** |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ږوک ẓuk | زرکه | اږا/اږه /aẓā aẓa | غوايي | * | |
| ږان ẓān | ولاړ/درېدل | اږې aẓe | غار/سوړه | * | |
| ږيوال ẓiwāl | کلمې | | | * | |

## ۷- ښ/ṣ/

د پشه يي ژبې په بېلا بېلو لهجو کې د دې غږ تلفظي بڼه د پښتو ژبې په څېر بېلابېلو لهجو کې توپير لري. دا غږ پشه‌يي ژبې د کاپيسا د اله ساى په لهجه کې د پښتو ژبې د مرکزي لهجې په څېر ورستي تالوييز، ناغږن او مښلى بېواک غږ دى. د اداکولو پر وخت يې د ژبې ورستى برخه د تالو وروستۍ برخې سره نښلي، ترڅو د ساهوا جريان د آواز زيږدځاي کې مښنه او سوليدنه ومومي، خو د پشه‌يي ژبې په دولت شاه او اليشنگ لهجه د پښتو ژبې لويديځې لهجې، يعنې د کندهارۍ لهجې«ښ» په څېر مخنى، غبرګژبيز(ريترو فلکس) مښلى، ناغږن، بېواک غږ دى(زيار،۱۳۸۴ل،٦۴مخ) چې د ويلو پر مهال يې د ژبې د څوکې لاندينۍ برخه راغبرګېږي او تالو له وروستۍ برخې سره لګېږي. د پشه‌يي ژبې «الفباى زبان پشه‌يى» اثر کې دا غږ په احتياطي په غږونو کې شمېرلى،، دا په داسې حال کې چې دا غږ په پشه‌يي ژبه کې شته او د پښتو ژبې په څېر په درې واړو موقيعتونو کې راځي چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

| ښ/ṣ/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د پښتو ژبې بېلګې | | | | | |
| د کلمې په پيل کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې پای کې | |
| بېلګه | فونيميک | بېلګه | فونيميک | بېلګه | فونيميک |
| ښځه | ṣəǰa | ښار | ṣār | خوښ | xwaṣ |
| ښاد | ṣād | پښتو | paṣto | اوښ | ūṣ |
| د پشه‌يي ژبې بېلګې | | | | | |

| بېلګه له فونیمیک سره | معنا | بېلګه له فونیمیک سره | معنا | بېلګه له فونیمیک سره | معنا |
|---|---|---|---|---|---|
| ښې ṡê | شپږ | اښت āṣṭ | اته | پوښ puṣ | نباتي سره |
| ښلداړي ṡldāṛi | سپين ږيرى | اښتي āṣṭi | اتلس | آکښ ākṣ | اېږه |
| ښايک ṣāik | روښانه کول | کښمالي kṣmāli | ريحان | | |

## ۸- ڼ/ṇ/

غبرګژبيز(ريتروفلکس)، تالوييز، غبرن او پزيز بېواک غږ دی (شېرزاد، ۱۳۹۱ل ،۵۷مخ). نوموړی غږ په پښتو او په پشه‌يي ژبو کې د کلمو په منځ او پای کې راځي، چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

| ڼ/ṇ/ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د پښتو ژبې بېلګې | | | | | |
| د کلمې په پيل کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې پای کې | |
| بېلګه | فونیمیک | بېلګه | فونیمیک | بېلګه | فونیمیک |
| * | * | منه | maṇa | بڼ | baṇ |
| * | * | کڼه | kaṇa | کوڼ | kūṇ |
| د پشه‌يي ژبې بېلګې | | | | | |
| بېلګه له فونیمیک سره | معنا | بېلګه له فونیمیک سره | معنا | بېلګه له فونیمیک سره | معنا |
| * | * | آڼا āṇā | هګی | ګڼ gəṇ | لوی،غټ |
| * | * | پڼي paṇi | پلنه او همواره ډبره | پڼ paṇ | پېټی/بار |
| * | * | دڼي dəṇi | کوتک | داڼ dāṇ | جريمه/ناغه |

**په دواړو ژبو کې د ذکر شويو د غږونو مشترك والي علت او عامل**

پشه‌يي ژبه چې زموږ د هيواد په ختيځو لکه: د کاپيسا، لغمان، ننگرهار، کونړ او نورستان په ځينو ولسواليو او کليو د کابل ولايت په پغمان او سروبي ولسواليو او د هېواد په يو شمېر نورو سيمو کې ويل کېږي. پښتو ژبه هم د هېواد پر لوېديځ سربېره په ختيځ لکه :کاپيسا، لغمان، ننگرهار او کونړ کې ګڼ شمېر د پشه‌يي ژبې په ګاونډ کې ويونکي لري چې دا ويونکي له پشه‌يانو سره په ګاونډ کې مېشت دي، دا وروڼه او قومونه له يو بل سره سيمه‌ييزې اړيکي لري، پښتو او پشه‌يي ژبې د لوې ژبکورنۍ (اندو-اروپاي) پورې اړه لري، پښتو ژبه د اندو –اروپايي ژبکورنۍ د آريك ژبښاخ د (ارياني) څانگې پورې اړه لري او پشه‌يي ژبه اندو –اروپايي ژبکورنۍ د آريك ژبښاخ د (دارديك) څانگې پورې اړونده ژبه ده، يعنې دواړې ژبې د اندو –اروپايي ژبکورنۍ له آريك ژبښاخ پورې اړوندې ژبې دي، (نيازی.١٣٩٨ل. ٢٥٠/٣٠۴مخونه) دواړه ژبې يو له بل سره ډېرې نږدې ژبنۍ، تاريخي، او سيمه‌ييزې اړيکي لري. دا چې د دواړو ژبو ډېر غږونه او آوازونه سره ورته دي، يو علت يې دا دی چې پښتو او پشه‌يي ژبه يو له بل سره تاريخی په لحاظ د اندو-آروپايي ژبو د آريك ژبښاخ پورې اړوندې ژبې دي او بله څانګړنه يې دا ده چې په دواړو ژبو د مورنۍ ژبې غږيزې ځانگړنې ساتلي دي چې د همدغه تاريخي، ژبني او سميه‌ييزو اړيکو پر بنسټ د (ټ/ṭ، ځ/ǰ، څ/c، ډ/ḍ، ړ/ṛ، ږ/ẓ، ښ/ṣ ڼ/ṇ) غږونه په دواړو ژبو کې مشترك غږونه ګڼل کېږي.

**پايله**

د پايلې په توګه ويلای شو، چې د پشه‌يي ژبې ويونکي د هېواد په ختيځو برخو، د هندوکش د غرونو په لمنو، د کابل په ختيځ، کاپيسا، لغمان، ننگرهار، کونړ، نورستان او شمېر نورو سيمو کې ويونکي لري. پشه‌يي ژبه له پښتو ژبې سره ډېره اوږده تاريخي، ژبنۍ او سيمه‌ييزه اړيکه لري، ځکه چې دواړه ژبې د يوې ژبکورنۍ(اندو –اروپايي) پورې اړوندې ژبې دي او د دې تاريخي، ژبنۍ اړيکې پر

بنسټ د دواړو ژبو ترمنځ غږيزې اړيکو پر اساس او بنسټ د پشه‌يي او پښتو ژبې تر منځ (ټ/ṭ، ځ/ǰ، څ/c، ډ/ḍ، ړ/ṛ، ږ/ẓ، ښ/ṣ ڼ/ṇ) غږونه ګډ (مشترک) دي، ځکه، چې په دواړو ژبو کې يو ډول غږيزې بڼې سره ويل کېږي، چې پښتو او پشه‌يي بېلګو کې روښانه شو او د پشه‌يي او پښتو ژبو اوږده تاريخي، ژبنۍ اړيکه روښانه .

**وړانديزونه**

۱- د پشه‌يي ژبې له لوستونکو او څېړونکو څخه هيله کوم چې د پښتو او پشه‌يي ژبو پر نورو ژبنۍ او کلتوري مشترکاتو څېړنې وکړي.

۱-ژبه ټوليزه پدېده ده او په فردي هڅو نه بډايه کېږي، نو د ژبو او ادبياتو پوهنځي محصيلينو ته وړانديز کوم، چې پشه‌يي ژبې فولکلور او نورو مهمو ژبنيو مسايلو په اړه څېړنيزې موضوعګانې د مونوګرافونو د موضوعګانو په ډول وڅېړي ، تر څو د پشه‌يي ژبې فولکلور خوندي او د نورو برخو تحقيقي اثار رامنځته شي.

## منابع

د پشه‌يي کميسون له خوا، (۲۰۱۰م). (پشه‌يي جبيډې ساده ډيکشنري)، خپرونکی اداره: سرپ افغانستان مؤسسه، دره‌نور(din)پروژه ، جلال اباد.

زيار، مجاور احمد،(۱۳۸۴ل) ، پښتو پښویه(پایڅوړ: د ژبپوهنې بنسټونه او غږونه)، دانش خپرندویه ټولنه، کابل

شيرزاد،محمد آقا.( ۱۳۹۹ل) ، پښتو گرامر(فونولوژي)، جهان دانش خپرندویه ټولنه،کابل

غمجن، نورمحمد.( ۱۳۹۹ل).پشه‌يي ـ پښتو قاموس. د بيهقي کتاب خپرولو رياست. کابل.آزادي(دولتي) مطبعه

فرحان، فريدالله.( ۱۴۰۴ل). د پشه يي ژبو دوو لهجو(دره نور، چوگني) ترمنځ غږيز توپيرونه.وړمه مجله، ۱۳۰گڼه،۶۹-۷۸.

نيازی، رفيع الله.( ۱۳۹۸ل)، د اندو – اورپايي ژبو نسبي څېړنه. د افغانستان علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: لايف سټار مطبعه، کابل،

## مرکې

ملکزی، حبيب الرحمن،کونړ، څوکی، ديوه گل دره،قريه چلس،۶۰کلن، نالوستی،«پشه‌يي ژبې فونولوجي» څېړندوی فريدالله فرحان، کونړ، څوکی، ۱۴۰۳/۹/۱۰ل

غني، ننگرهار، دره‌نور، شېمل، ۶۰ کلن، لېسانس، «پشه‌يي ژبې فونولوجي» څېړندوی فريدالله فرحان، ننگرهار، دره‌نور، شېمل، ۱۴۰۳/۹/۱۵ل-انصاري، گل سعيد، کاپيسا، اله سای ، ۴۰کلن، ديني عالم،«پشه‌يي ژبې فونولوجي» څېړندوی فريدالله فرحان، کاپيسا، مرکز، ۱۴۰۴/۴/۱۲ل

نورين، فضل الهادي، لغمان، دولت شاه ، ۴۲کلن، لېسانس، «پشه‌يي ژبې فونولوجي» څېړندوی فريدالله فرحان، لغمان، دولت شاه ،۱۴۰۴/۲/۲۸ل

# A study on the shared sounds (ṭ, /ǰ, /c, /ḍ, /ṛ, /ẓ, /ṣ, /ṇ) of Pashto and Pashayi languages

Assistant prof. Faridullah Farhan

Science Academy of Afghanistan, Deputy for Human Science, Center for Languages and Literature

**Abstract**

The Pashayi language is spoken in different provinces of Afghanistan and has strong historical, linguistic, and regional connections with Pashto. This article focuses on eight specific sounds (/ṭ, /ǰ, /c, /ḍ, /ṛ, /ẓ, /ṣ, /ṇ) that are common in both Pashto and pashayi. The study looks at how these sounds are identified, where they are produced in the mouth (articulation points or *makhārij*), and other phonetic features. Examples are used to show how these sounds appear at the beginning, middle, and end of words. The article also explains the reasons why both languages have these shared sounds**.** Significance of the research this is an important study because no earlier research has focused on these shared sounds between Pashayi and Pashto. It highlights the similarities and helps readers and researchers better understand the deep historical and linguistic links between the two languages. The research includes information from various sources, including interviews with native Pashayi speakers, to provide a complete analysis.

**keywords:** Pashto, Pashayi, Arik ,Shared Sounds, Causes, Phonetics